ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۱۲

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم توک
### (نهه څلویښتمه برخه)

## خان عبدالغفارخان

د بهرام خان زوی، په ۱۸۹۰ز کال کې د شمال لویدیځې کرښې په ولایت NWFP د „هشت نګر„ [1] د اتمانزیو په کلي کې زیږیدلی دئ. خپلې زده کړې ئې د خپل کلي د جومات په ښوونځي کې او په ۱۹۲۱ز کال کې د پېښور د ‹میونیسي پل بورډ اینډ ایدوارډ میموریل های سکول› [2] په لیسې کې تر سره کړي دي او بیا ئې په ‹کمپبل پور او علیګهر› [3] کې تحصیلات کړي دي. غفارخان یو پښتون نشنلیست دئ، او د شمال لویدیځې کرښې په ولایت NWFP کې ئې د ښوونځیو په جوړولو او پرانیستلو کې مرسته وکړه. غفار خان د «هشت نګر» د خانانو له لوري د ‹بادشاه› په توګه وټاکل سو او د ‹انجمن نو جوانان› [4] او نورو سازمونونو بنسټونه ئې کښېښودل چې په پای کې ټول د ‹خدايي خدمتګارانو› [5] په سازمان واوښتل. د مهمندو او افریدیو او د سرحد د افغانانو د ګڼ شمېر کسانو په منځ کې ئې ستر اغېز درلود. د پښتنو د استقلال د ترلاسه کولو لپاره ئې د عدم تشدد پالیسي دود کړه او د کانګرس له ګوند سره یو ځای سو. د برتانوي واکمنو او وروسته د پاکستان د حکومت له پلوه څوځو ځله زنداني سو. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۸۱ز کال پورې ئې په کابل او جلال آباد کې د افغان حکومت د مېلمه په توګه ژوند ژواک وکړ. ځینې کسان ئې د „باچا خان„ په نوم یادوي او اعلیحضرت امان الله خان ورته د „فخر افغان„ لقب ورکړی دئ. همدا شان د „سرحد د ګاندهي„ [6] په نوم هم شهرت لري. داسي ښکاري چې خان عبدالغفار خان د ببرک کارمل ملاتړی دئ.

## خان محمد

د عبدالمحمد زوی د ۱۸۸۰ز لسیزې په اوږدو کې د خورد کابل ته نېږدې په چکري کې زېږېدلی دئ. دودیزې زده کړې ئې تر لاسه کړې دي. د مالیې د وزارت مأمور. د شرکت ِ سهامي ملي یو له بنسټ ایښودونکو څخه دئ، دا شرکت وروسته، ملي بانک سو. په پېښور او وروسته په کراچۍ کې د شرکت سهامي او ملي بانک لومړنی استازی. په

1
2 -Municipal Board and Edward Memorial High School
3 -Campbellpur and Aligarh
4 - Anjuman-e-Naujawanan
5 - Khuda-i-khidmatgaran
6 - Frontier Gandhi


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۹۴۰ز کال کې په کندز کې د «افغان مالوچو» [7] د شرکت رئیس. د جنګلک لوموړنی رئیس. د افغان نساجي سوپروایزر. تر ۱۹۶۶ز کال پورې چې د تقاعد کال ئې دئ د ملي بانک د تعمیراتي څانګې رئیس. په ۱۹۷۷ز کال کې وفات سو.

## جنرال خان محمد

محمد زی دئ، او ۱۹۱۲ز کال کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې د لیسې او د کابل د حربي پوهنتون فارغ. له حربي پوهنتون څخه د ویاړلي په درجې فارغ سو. له ۱۹۳۹ تر ۱۹۴۲ز کال پورې تورکیې ته د نورو تحصیلاتو لپاره لاړ. د قطعي بولندوی او په ۱۹۳۵ز کال کې د قول اردو بولندوی. په ۱۹۴۲ز کال کې د قطغن د ګارنیزیون بولندوی. په ۱۹۴۵ز کال کې د قوای مرکز د ټولو ځواکونو بولندوی. په ۱۹۵۳ز کال کې د غزني د ګارنیزیون بولندوی. په ۱۹۵۵ز کال کې د کندهار د ګارنیزیون بولندوی. په ۱۹۵۸ز کال کې د اتمې فرقې بولندوی. په ۱۹۶۰ز کال کې د کندهار والي. په ۱۹۶۳ز کال کې ډګر جنرال. په ۱۹۶۴ز کال کې ستر جنرال. له ۱۹۶۳ز کال راوروسته ددفاع وزیر. په ۱۹۷۳ز کال کې د جمهوریت له اعلان وروسته زنداني سو او بېرته خوشې سو. مډالونه : تحسین، بریالی، ربښتین، هزاري او سردار اعلی. تر اوسه (۱۹۸۶ز کال) پورې په کابل کې ژوند کوي.

## جنرال خان محمد

د مرستیال په لقب هم یادېږي. د ننګرهار له مهمندو څخه دئ. دی یو له هغو لومړنیو زده کوونکو څخه دئ چې په ۱۹۲۴ز کال کې تورکیې ته د زده کړو لپاره واستول سو. د تورکیې په حربي پوهنتون کې ئې تحصیل کړی دئ. د ظاهر شاه د مهال د وسله وال ځواک جنرال. د ستر درستیز مرستیال. د جلال آباد والي او د وسله والو ځواکونو بولندوی. په ۱۹۶۳ز کال کې په جده کې سفیر. د میوندوال په «دسیسه» کې ښکیل وو او د (۱۹۸۳ز کال په ډسمبر کې) [8] د داؤود په وسیلې اعدام سو.

## مولوي خال محمد خسته

(د مشهور خطاط عبدالرحیم د زوی) ملا رُستم زوی په ۱۹۰۲ز کال کې په بخارا کې زېږېدلی دئ. د دوېزې زده کړې ئې له خپل پلار څخه تر لاسه کړي دي. په بخارا کې له پینځو کالو وروسته مزار شریف ته راغی. دلته ئې قران حفظ او عربي علوم ئې زده کړل. په ۱۹۲۲ز کال کې هندوستان ته لاړ او په بېلابېلو مدارسو کې ئې زده کړې وکړې. په ۱۹۳۶ز کال کې بېرته مزار شریف ته راستون سو او په سیمه ییزو ښوونځیو کې ئې تدریس وکړ. په ۱۹۴۸ز کال کې د ولسي جرګې د غړي په توګه وټاکل سو. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د ابن سینا د کتاب پلورنځي منیجر. په ۱۹۶۵ز کال کې ئې د میوند په جادې کې خپله هټۍ درلودله. خطاط، شاعر او لیکوال. د «معاصرین سخنور» [9] (معاصرو شاعرانو) مؤلف. په ۱۹۷۳ز کال کې وفات سو.

---

[7] - Afghan Cotton

[8] - د ژباړونکي یادونه : دا کال باید ۱۹۷۳ز کال وي؛ دلته د ۱۹۷۳ز کال پر ځای په غلطه ۱۹۸۳ز کال لیکل سوی دی. - ژ

[9] -Mo'asserin-e-Sokhanwar



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## محمد شریف خسته دل

د کریم کابلي زوی په ۱۸۸۹ز کال کي د کابل په شور بازار کي زېږېدلی دئ. په ادب او موسیقي کي ئـي خصوصـي زده کړې کړي دي. شاعر. د ۱۹۳۰ز لسیزې په ترڅ کي وفات سوی دئ.

## اجمل خټک

د هندوستان ﴿اوس پاکستان﴾ د شمال لویدیځ سرحد په ولایت کي په ۱۹۲۵ز کال کي زېږېدلی دئ. دی د پښتونستان یو لاربنود مشر دئ چي د ۱۹۶۰ز لسیزې راهیسي د افغانستان د حکومت د مېلمه په توګه په افغانستان کي ژوند ژواک کوي. شاعر او لیکوال. د مارکسیست حکومت ملاتړی.

## حافظ خیال / حفیظ خیال؟ -ژ

یو محمد زی دئ. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۰ز کال پورې ئـي له برشنا او غلام حسن سره د راډیو افغانستان د موسیقی په کورسونو کي زده کړه کړې ده. دی یو مشهور موسیقي پوه دئ چي په ځلونو ئـي په شوروي اتحاد کي هنر ښوونه /هنرنمایي کړې ده او تر ۱۹۸۵ز کال پورې چي د مړیني نېټه ئـي ده د افغانستان له راډیو او ټلویزیون سره کار کړی دئ.

## ډګروال خدا داد

د خاد قوماندان چي د ۱۹۸۳ز کال په سپتمبر کي ووژل سو.

## ډاکټر اختر محمد خوشبین

د فقیر محمد زوی په ۱۹۳۰ز کال کي په کابل کي زیږېدلی دئ. په ۱۹۵۰ز کال کي د استقلال له لیسي څخه فارغ سو او په ۱۹۵۷ز کال کي د کابل ﴿پوهنتون – ژ﴾ د طب له پوهنځي څخه فارغ سو. فرانسي ته د نورو تحصیلاتو لپاره لاړ او له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۲ز کال پورې په لیون کي وو؛ له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې او بیا په ۱۹۶۸ز کال کي په پاریس کي؛ له ۱۹۷۷ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د کاناډا په کیوبک کي وو. په ۱۹۵۸ز کال کي د علي آباد د روغتون مرستیال رئیس او په ۱۹۵۹ز کال کي او ۱۹۶۲ز کال کي ددې روغتون رئیس. په ۱۹۶۹ز کال کي د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي مدرس. په ۱۹۶۹ز کال کي د عامي روغتیا د وزارت د معالجوي طب د ریاست رئیس. په ۱۹۷۱ز کال کي د طب د پوهنځي او د فارما کولوژي د پوهنځیو رئیس. په ۱۹۷۱ز کال کي د عامي روغتیا د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۷۲ز کال کي د روغتیا د وزارت ﴿لنډ مهالی/ مؤقت﴾ [10] وزیر. د ۱۹۷۳ز کال په سپتمبر کي د کابل پوهنتون ﴿د طب د پوهنځي – ژ﴾ د ﴿نیورو سایکیاتري﴾ [11] پوهاند. د۱۹۸۰ز کال د آګست له میاشتي راهیسي ئـي په سویتزرلند کي سیاسي کډوال په توګه ژوند غوره کړی دئ. د یو شمېر آثارو لیکوال.

## قاري شرف الدین خوبي

[10] - ad interim

[11] -Neuropsychiatry



افغان جرمن آنلاین په درنښت ټاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د مـحـمد میرزا زوی، په ۱۸۹۵ز کال کې په سمرقند کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئـې په کور او بـېلابـېلو دیني مدرسو کې کړي دي. په ۱۹۲۸ز کال کې افغانستان ته راغلی دئ. د تورکي او دري ژبو شاعر.

**حاجي محـمد امین خوګیانی**

د مـحـمد اسرائیل زوی په ۱۸۹۹ز کال کې د ننګرهار د خوګیانیو په حکیم آباد کې زېږېدلی دئ. د لاهور په نیمله کالج کې ئـې د عربي زده کړه کړي ده؛ او بیا ئـې د پېښـور په اسلامیه کالج کې تحصیل کړی دئ. په ۱۹۲۰ز کال کې ښوونکی، په ۱۹۲۴ز کال کې د کړي د ښوونځي سرښوونکی. په ۱۹۲۵ز کال کې د ننګرهار د معارف د ریاست مشر. په ۱۹۲۶ز کال کې د اتحاد مشرقي د ورځپاڼې محرر، او کله چې نادرخان د کابل پر لور مارش کاوهٔ دی د اصلاح محرر وو. په ۱۹۳۲ز کال کې د انیس محرر؛ هغه مهال انیس یوازې په اونۍ کې یو ځل چاپ کېدهٔ. د مشرانو جرګې انتصابي سناتور. په ۱۹۴۰ز کال کې د اطلاعاتو د وزارت [12] سلاکار. لیکوال او عالم. په ۱۹۴۶ز کال کې د عدلیې د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۴۸ز کال کې د تمیز د محکمې رئیس. په ۱۹۵۰ او ۱۹۶۵ز کال کې د مجلس اعیان [13] غړی. د سید جمال الدین افغان د کتاب مؤلف. مورنۍ ژبه ئـې پښـتو ده. د ۱۹۸۵ز کال د دسمبر په میاشت کې وفات سو.

**نور بیا**

# علي احمد خرم

د خرم دل زوی په ۱۹۳۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

[12] - Ministry of Information
[13] -Majlis-i-Ayan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ